بسم الله الرحمن الرحیم

# جریده میـــزان

سټره محکمه

د سترې محکمې کاري څرګندویه خپرونه

د تأسیس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

**د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی**

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:
ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله یې ایښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تیری ونه کړئ.
زیاتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي ، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وای نو د نړۍ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کېده.
تفسیر کابلی ، ج ۲ ، ص ۱۳۰۳

شنبه ۱ لیندۍ ۱۴۰۴ هـ ش | ۱ جمادی الآخرة ۱۴۴۷ هـ ق | ۲۲ نومبر ۲۰۲۵ م | مسلسله شمیره (۱۱۷)

## د سترې محکمې د تدقیق او مطالعاتو عمومي رئیس محترم شیخ ګل آقا (ثاقب) صاحب سره د اسلامي عدالت ځانګړې خپرونه

د سترې محکمې د تدقیق او مطالعاتو عمومي رئیس محترم شیخ ګل آقا (ثاقب) صاحب، تر ټولو مخکې درڅخه مننه کوو چې له ډېرو مصروفیتونو سره، سره مو د اسلامي عدالت خپرونې لپاره موږ ته خپل قیمتي وخت راکړ او دې خپرونې ته درته هرکلی وایم.

**۱ - پوښتنه:** شیخ صاحب محترم، که د خپرونې په سر کې د تدقیق او مطالعاتو عمومي ریاست د تشکیل او ترکیب په هکله معلومات راکړئ؟

**ځواب:** الحمدلله رب العلمین و الصلاة و السلام علی سید المرسین محمد و علی اله و اصحابه اجمین اما بعد:

قدرمنو، زه هم له تاسو مننه کوم چې د افغانستان مجاهد او غیور ملت ته د اسلامي عدالت خپرونې له لارې د سترې محکمې د معاونیتونو، دیوانونو، ریاستونو او نور اړوند ادارو معلومات راټول او تر دوی رسوئ. ستاسو د لومړۍ پوښتنې په ځواب کې باید ووایم چې د تدقیق او مطالعاتو عمومي ریاست د سترې محکمې د مرکزي مهمو ریاستونو له جملې څخه دی چې د سترې محکمې د عالي مقام تر چتر لاندې فعالیت کوي، دغه عمومي ریاست بیا په خپل جوړښت کې دوه نور ماتحت ریاستونه هم لري چې یو یې د قضائي تدقیق ریاست دی او بل یې د قضائي او حقوقي مطالعاتو ریاست دی، چې یاد هر یو ریاست جلا جلا موضوعاتو ته رسېدنه کوي او هر یو ځانته رئیس، قضائي غړي، اداري او خدماتي کارکونکي لري.

**۲ - پوښتنه:** شیخ صاحب، د تدقیق او مطالعاتو په عمومي ریاست کې څومره قضائي او اداري کارکونکي په دندو بوخت دي؟

**ځواب:** په مجموع کې د تدقیق او مطالعاتو عمومي ریاست د قضائي غړو شمېر د رئیسانو په شمول (۱۸) تنه دی او په دې سربېره یاد ریاست (۲۳) اداري او خدماتي کارکوونکي هم لري.

**۳- پوښتنه:** محترم شیخ صاحب، د خپرونې په دې برخه کې که د تدقیق او مطالعاتو عمومي ریاست ته د موضوعاتو د راتګ په اړه معلومات راکړې چې یاد ریاست ته موضوعات په څه ډول راځي؟

**ځواب:** د تدقیق او مطالعاتو عمومي ریاست ته په درېیو طریقو موضوعات مواصلت کوي.

۱ ــ د سترې محکمې د عالي مقام د تحریراتو ریاست له لارې؛

۲ ــ د سترې محکمې د عالي مقام د دفتر عمومي ریاست له لارې؛

۳ ــ د محاکمو او سترې محکمې د اداراتو له لارې؛

**۴- پوښتنه:** کله چې موضوعات د تدقیق او مطالعاتو عمومي ریاست ته راشي، بیا یې یاد ریاست په اړه څه ډول اجراآت او فعالیتونه کوي؟

**ځواب:** د تدقیق او مطالعاتو په عمومي ریاست کې لومړی د موضوعاتو ترمنځ تفکیک کېږي، له هغه وروسته ماتحت ریاستو ته د هغوی اړوند موضوعات راجع کېږي، ورپسې هر ریاست د هغې په اړه تحقیق او تحلیل کوي؛ تر څو یې د موضوع د حل په موخه تدقیقي او مطالعاتي نظرونه ترتیب کړي، له هغه وروسته هر ریاست په اړوند نظر باندې د ټولو مدققینو په ګډون ناسته جوړوي، د ناستې د ګډونوالو له تائید وروسته یاد نظر د تائید لپاره عمومي ریاست ته راځي، د تدقیق او مطالعاتو عمومي ریاست یاد نظرونه مطالعه کوي، د ملاحظې په صورت کې، د سه شنبې په ورځ همېشه او په نورو ورځو کې د اړتیا په اساس ناسته کوي.

**۵- پوښتنه:** کله چې مربوطه ریاستونو ته موضوعات راجع شي هغوی څنګه اجراآت پرې کوي؟

**ځواب:** هر ریاست ته د اړوند موضوع له ارجاع وروسته هغه ریاست یاده موضوع د واردې په کتاب کې قید او د تدقیقي او مطالعاتي نظرونو په موخه یې خپلو قضائي مدققینو ته اندراج کوي؛ تر څو خپل حد اکثر د یوې اونۍ په جریان کې تدقیقي یا مطالعاتي نظر ترتیب کړي، وروسته ترتیب شوي تدقیقي او مطالعاتي نظرونه په اړوند ریاستونو کې مطرح او بیا تر تائید وروسته د عمومي ریاست غونډې ته وړاندې کېږي.

**۶- پوښتنه:** قدرمن شیخ صاحب، که په لنډو د حقوقي او قضائي مطالعاتو ریاست اړوند موضوعات راته واضح کړئ، یعنې دغه ریاست ته معمولاً کوم موضوعات راجع کېږي؟

**ځواب:** په عمده ډول د حقوقي او قضائي مطالعاتو ریاست ته لاندې لس موضوعات راجع کېږي.

۱. د نافذه تقنیني سندونو څخه د ملغی شویو تقنیني سندونو تفریق او جدا کول.

۲. د سترې محکمې اړوند قانون، لوائحو او کړنلارو، همدا راز د فیصلو او وثایقو لپاره د لارښوود او د قضائي اجراآتو د ښه‌والي په غرض د تعلیمات‌نامو تسوید، ترتیب او تنظیمول.

۳. د یوې واحدې قضائي رویې د جوړولو په غرض د محاکمو د نهایي او قطعي فیصلو تحلیل او ارزیابي کول؛ تر څو هغه قطعي او نهایي فیصلې چې د شریعت مقدسه له احکامو او د نافذه تقنیني سندونو د اصولو سره په توافق کې حل او فصل شوې وي را جدا او وروسته د یو منظم مجلد کتاب په صورت کې نشر او تکثیر شي.

٤. د شریعت مقدسه د احکامو او هدایاتو په رڼاکې د هېواد د نافذه قوانینو د پېچیده او مغلقو موادو تشرېح او وضاحت کول.

٥. که اړتیا ولیدل شي د سترې محکمې د عالي مقام د هدایت موافق د قضائي زده کړو د سیمینارونو تنظیمول.

٦. کله چې د حقوقي او تقنیني اسنادو اړوند د هېواد په کچه یا له هېواد څخه بهر کنفرانس یا سیمینار جوړېږي، د افغانستان اسلامي امارت سترې محکمې له لوري استازیتوب کول د همدغه ریاست دنده ده.

۷. د سترې محکمې عالي مقام د هدایت په اساس د تقنیني سندونو د یو خاص مورد په اړه د توضیح غوښتلو په ارتباط تحقیقي مطالعاتي نظر ترتیبول.

۸. د سترې محکمې د عالي مقام د هدایت او لارښوونې سره سم د شریعت مقدسه د اصولو او حنفي فقهې د احکامو سره د تقنیني سندونو، بین الدول معاهداتو او بین المللي میثاقونو د مطابقت په اړه د تحقیقي مطالعاتي نظر ترتیب او وړاندې کول.

۹. د هېواد د قضائي نظام د لا ښه‌والي او پرمختګ په غرض د پر مختللو اسلامي هیوادونو د حقوقي او قضائي قوانینو مطالعه او تحلیل کول.

۱۰. یو شمېر هغه متفرقه موضوعات چې د سترې محکمې عالي مقام له لوري دغه ریاست ته د مطالعاتي نظر په موخه رالېږل کېږي، د یاد ریاست لخوا پرې د عالي مقام د هدایت موافق خپل تحقیقات او نظر ورکول کېږي او په لیکلې بڼه مقام ته لېږل کېږي.

**۷- پوښتنه:** قدرمن شیخ صاحب، که په لنډ ډول دا هم راته واضح کړئ چې کوم موضوعات د قضائي تدقیق ریاست اړوند دي؟

**ځواب:** د قضائي تدقیق ریاست اړوند موضوعات په لاندې ډول دي:

۱. د محاکمو او مربوطه اداراتو د استهداآتو پر وړاندې تدقیقي نظریات؛

۲. د سترې محکمې د قضائي تفتیش ریاست د عادي راپورونو پر وړاندې تدقیقي نظریات؛

۳. د سترې محکمې د قضائي تفتیش ریاست د اقتضائي راپورنو پر وړاندې تدقیقي نظریات؛

٤. د عارضینو د راغلو عرایضو پر وړاندې تدقیقي نظریات؛

٥. د سترې محکمې د عالي مقام له طرفه د نورو محول شوو وظایفو اجراء.

٦. یو شمېر هغه متفرقه موضوعات چې د سترې محکمې عالي مقام له لوري دغه ریاست ته د تدقیقي نظر په موخه رالېږل کېږي د یاد ریاست لخوا پرې د عالي مقام د هدایت موافق خپل تحقیقات او نظر ورکول کېږي او په لیکلې بڼه مقام ته لېږل کېږي.

**۸- پوښتنه:** محترم شیخ صاحب د خپرونې په پای کې که د تدقیق او مطالعاتو عمومي ریاست اهمیت را ته ووایئ؟

**ځواب:** د تدقیق او مطالعاتو عمومي ریاست د ارزښت په اړه یوازې دومره ویل کافي دي چې دغه ریاست د افغانستان اسلامي امارت د ټولو محاکمو د ضرورت مرجع ده، چې د ضرورت پر مهال ورته رجوع کوي، هغه شرعي احکام او فیصلې چې سخت او پېچیده وي د حل او فصل په موخه دغه ریاست ته راجع کېږي.

**د راشده خلافت په دوره کې قضاء:**

**هغه مهم کارونه چې د ابوبکر ﷺ د خلافت په دوره کې ترسره شوي**

**شپاړسمه برخه**

ماته د رسول الله ﷺ د ځای ناستي (ابوبکرﷺ) لیک را رسېدلی، چې په هغه کې یې ماته شام ته په تګ، د لښکر برابرولو او د هغوی مشري په غاړه اخیستلو امر کړی و او زما دې د الله ﷻ په ذات قسم وي چې نه د دې غوښتنه او نه مې اراده کړې وه؛ نو ته په خپل مخکني حال باندې یې، موږ ستا نا فرماني نه کوو، نه دې مخالفت کوو او نه به ستا څخه یو شی هم واخلو.

نو کله چې ابو عبیده د خالد ﷺ لیک ولوست، ویې ویل: الله تعالی دې د رسول الله ﷺ ځای ناستي باندې د خپلې رایې په سبب برکتونه نازل کړي او الله ﷻ دې خالد ﷺ د کړي کار له امله ژوندی لري.

اخذلیک: تتمة النظام، ۶۱ صفحه، تألیف: قاضي القضات شیخ عبدالحکیم حقاني صاحب/ ژباړن:مولوي عبدالرحیم راشد

## په ارزګان ولایت کې د نظامي محکمې په هڅو د قتل موضوع حل او فصل شوه

د ارزګان ولایت د نظامي محکمې څانګې د مسؤولینو په ډېرو هڅو ددغه ولایت په چورې ولسوالۍ کې؛ په ۲۷/۴/۱۴۴۷هـ ق نېټه د قتل موضوع د سولې له لارې حل او فصل شوه.

په یاده موضوع کې یو ملکي کس په نظامي کس باندې د خپلې ښځې د قتل دعوه کړې وه؛ چې یاده موضوع نظامي محکمې ته تر راجع کېدو وروسته په پوره غور او دقت وڅېړل شوه.

ورپسې دواړه طرفه سولې ته وهڅول شول، د قومي مشرانو او مصلحینو په منځګړیتوب قاتل لخوا مقتول ته د یوې اندازه پیسو په ورکړې سره یاده موضوع د سولې له لارې حل او رسماً پای ته ورسېده.

## د پکتیا ولایت مرافعه محکمې رئیس د عدلیې وزارت له پلاوي سره وکتل

د پکتیا ولایت مرافعه محکمې رئیس الحاج مفتي عبیدالله (خالد)؛ د ښاري ابتدائیه محکمې رئیس مولوي محمد رحیم (نعماني)، د مرافعه او ښاري ابتدائیه محاکمو د عامه امنیت او جزا دېوانونو رئیسانو او د زندان رئیس د کابل ولایت د عدلیې وزارت څخه راغلي پلاوي او د حقوقي مساعدینو رئیس مولوي محمدجان (طلحه) ترمنځ، په ۱۳/ ۵/ ۱۴۴۷ هـ ق نېټه غونډه وشوه.

د غونډې په پیل کې د حقوقي مساعدینو رئیس خبرې وکړې او د راغلي پلاوي غوښتنه یې شریکه کړه وویل، که د جزائي موضوعاتو په برخه کې د بېبضاعته متهمینو لپاره په محاکمو کې د مساعدینو اړتیا وي؛ نو موږ سره یې شریکوی یې، بېبضاعته متهمین او بېسرنوشته کسان موږ ته معرفي کوئ او موږ سره په دې برخه کې رابطه کوئ؛ ځکه چې موږ ستاسو سره همکار یو.

د غونډې په دوام د مرافعه محکمې عمومي رئیس راغلي پلاوي ته ښه راغلاست ووایه، دوی ته یې ډاډ ورکړ چې موږ د بندیانو او د دوی ستونزو ته د متحدالمآل په اساس په مرکز او ولسوالیو کې لومړیتوب ورکوو.

ورپسې د ښاري ابتدائیه محکمې رئیس هم یاد پلاوي ته ښه راغلاست ووایه، ډاډ یې ورکړ او د بندیانو موضوعات یې ورسره شریک کړل.

د غونډې په وروستیو کې د زندان رئیس قاري عبدالغني (عادل) وینا وکړه او پلاوي ته یې د محبوسینو د موضوعاتو په اړه خپلې کړنې وړاندې کړې.

په یاده غونډه کې د بندیانو په اړه نظرونه تبادله شول، ترڅو د بندیانو ستونزو ته ژر تر ژره رسېدنه وشي.

غونډه د ښاري ابتدائیه محکمې عامه امنیت دېوان رئیس په دعاء پای ته ورسېده.

## د قضائي پلټنې عمومي ریاست مفتشینو د سرپل ولایت له محاکمو او مرکزي زندان څخه لیدنه وکړه

د سترې محکمې محترم مقام په هدایت د قضائي پلټنې عمومي ریاست یوه مؤظف پلاوي د محترم مولوي عبدالبصیر (غزنوي) په مشرۍ؛ چې مولوي سید اسحاق (سادات) او مولوي صبغت الله (ناظم) یې غړیتوب درلود، د روان ١٤٤٧ هـ ق کال د جمادی الأولی میاشتې په ۷ مه نېټه سرپل ولایت ته د محاکمو د تېرو فعالیتونو د څېړنو په موخه سفر وکړ.

د لیدنې په پیل کې یاد پلاوي د مرافعه محکمې له رئیس سره وکتل، ورپسې یې د بندیانو ستونزو د څېړلو په موخه د سرپل ولایت له مرکزي زندان څخه لیدنه وکړه، د یاد محبس اړوند بندیانو شکایتونه یې واورېدل، د ملاحظې وړ بندیانو بشپړ شهرت، کیفیت او شکایتونه یې له ځان سره ولیکل او بیا یې له اړونده محاکمو سره شریک کړل.

یاد پلاوي د خپل کاري پلان له مخې د دغه ولایت د (۱۰) ولسوالیو له ابتدائیه محاکمو، د حقوقو مدیریتونو، د ښاري او مرافعه محاکمو اړوند دېوانونو، وثایقو او حقوقو آمریتونو، مخزن مدیریت او اختصاصي محکمې څخه جلا جلا لیدنه وکړه.

نوموړي پلاوي د پلټنې بهیر په جریان کې د یادو محاکمو د قضائي، اداري او مالي چارو هر اړخیزه پلټنه وکړه، د محاکمو د قضائي او اداري پرسونل د سلوکي او مسلکي اړخونو معلومات یې واخیستل او د چارو د سمون په برخه کې یې ورته لازمي لارښوونې وکړې.

د پلټنې پلاوي د محاکمو اړوند شته ستونزې، کاري خنډونه او نیمګړتیاوې له ځان سره یادداشت کړې او په پای کې د ستونزو د حل، د خنډونو له منځه وړلو او نیمګړتیاوو د اکمال په اړه د یاد ولایت د مرافعه محکمې له مقام سره تفاهمي ناسته وکړه او ټولې ستونزې یې په جلا جلا توګه ورسره شریکې کړې.

د پلټنې دغه پلاوي د خپل سفر په جریان کې د یاد ولایت له والي او د ولسوالیو له ځینو مسؤولینو سره ناستې وکړې، د محاکمو فعالیتونو د لا ښه پرمختګ او د ځینو اړوند ستونزو د حل په موخه د هغوی نظرونه واورېدل.

د قضائي پلټنې پلاوي یاد سفر د ١٤٤٧ هـ ق کال د جمادی الأولی میاشتې په ۲۲ مه نېټه پای ته ورسېد.

## رئیس محکمۀ مرافعۀ ولایت کندز از محاکم ابتدائیۀ ولسوالی‌های قلعه زال و گل‌تپۀ آن ولایت بازدید نمود

محترم مولوی محمد یوسف (ابوالوفا) رئیس عمومی محکمۀ مرافعۀ ولایت کندز؛ با همراهی مولوی محمد صادق (مظهری) آمر حقوق محکمۀ مرافعه، به تاریخ ۱۲ /۵ /١٤٤٧ هـ ق از محاکم ابتدائیۀ ولسوالی‌های قلعه‌زال، گل‌تپه و مدیریت‌های حقوق‌شان بازدید نمود.

در این بازدید ابتداء کتب حاضری پرسونل محاکم ارزیابی گردید، تمام کارمندان (قضات، مامورین، کارمندان خدماتی و امنیتی( به وظایف محولۀ خویش حضور داشتند و حفظ الصحه محیطی مراعات گردیده بود.

سپس کتب اندراج دوسیه‌ها، کندەجات وثایق، روند اجراآت مشاهده و ملاحظه گردید، الحمدلله امورات سپرده شده به خوبی به پیش برده می‌شد، کدام نواقص در اجراآت روزمره به نظر نرسید.

در ادامه رئیس محکمۀ مرافعه طی جلسات جداگانه برای پرسونل محاکم و مدیریت‌های حقوق ولسوالی‌های قلعه‌زال و گل‌تپه روی موارد ذیل بحث و تأکید ورزید:

۱ ـ تعمیل دستورالعمل و متحدالمآل‌های مقام عالی ستره محکمه، رفتار و سلوک نیک با مراجعین و اصحاب دعوی، بررسی دوسیه‌ها در مواعید اصولی، حفظ بی‌طرفی و ترتیب وثایق مختلف النوع مراجعین در اسرع وقت.

۲ ـ پابندی به اوقات رسمیات، ترتیب و ارسال به موقع راپور اجراآت، مطالعه قوانین شرعی و متحدالمآل‌ها، هماهنگی و تحکیم روابط با سایر ارگان‌های امارتی و اشتراک پیهم در جلسات ادارات مستقر در ولسوالی‌ها.

در اخیر رؤسای محاکم متذکره به نمایندگی از پرسونل‌شان تعهد نمودند که وظایف محوله را در روشنایی قوانین شرعی و متحدالمآل‌های ریاست عمومی دارالانشاء مقام عالی ستره محکمه و رهنمائی‌های همه جانبه رئیس محکمۀ مرافعه انجام داده و در راه خدمت، تأمین عدالت سعی و تلاش خستگی ناپذیر می‌نمایند.

## رئیس محکمۀ مرافعۀ ولایت فاریاب از محکمۀ ابتدائیۀ ولسوالی المار آن ولایت بازدید نمود

محترم مفتی عبدالخالق (محمدی) رئیس عمومی محکمۀ مرافعۀ ولایت فاریاب؛ با همراهی مولوی پیروز (ظهورالله) آمر تحریرات محکمۀ مرافعه، به تاریخ ۱۲ /۵ /١٤٤٧ هـ ق از امورات محکمۀ ابتدائیۀ ولسوالی المار آن ولایت بازدید نمود.

در این بازدید ابتداء رئیس محکمۀ مرافعه و هیئت همراه‌اش دفاتر کاری، حاضری، وارده و صادره، اندراج و کتاب ثبت فیصله‌ها و همه اجراآت قضائی و اداری تحت بررسی محکمۀ متذکره و مدیریت حقوق را مشاهده و مورد بررسی قرار داد، در جریان بررسی رهنمائی‌های لازم صورت گرفت.

سپس طی جلسات جداگانه با قاضی و منسوبین محکمه در مورد بهبود اجراآت و رفع خلاها با در نظرداشت لوایح و اصول امارت اسلامی رهنمائی و هدایات لازم نمود.

در ادامه ضمن استماع برخی مشکلات و نظریات به حاضرین اطمینان داد، که محاکم در پرتو احکام شریعت غرای محمدی (صلی‌الله علیه وسلم) فیصله‌های خود را صادر و به مشکلات مردم رسیدگی می‌نماید.

## رئیس محکمۀ مرافعۀ ولایت جوزجان از محاکم ابتدائیۀ ولسوالی‌های قوش‌تپه و درزآب آن ولایت بازدید نمود

محترم مولوی عبدالغنی (سعید) رئیس عمومی محکمۀ مرافعۀ ولایت جوزجان؛ با همراهی مولوی عبدالقادر (خالد) عضو مفتی دیوان مدنی محکمۀ مرافعه و قوماندان قطعۀ مفرزۀ قضات، به تاریخ ٥ /٥ /١٤٤٧ هـ ق از محاکم ابتدائیۀ ولسوالی‌های قوش‌تپه و درزآب آن ولایت بازدید نمود.

رئیس محکمۀ مرافعه در این بازدید بعد از مشاهدۀ دفتر حاضری آن محاکم و مدیریت حقوق، اجراآت قضائی و اداری محاکم متذکره را بطور همه جانبه بررسی و مشاهده نمود، اجراآت قضائی و اداری بطور درست و اصولی صورت گرفته بود.

سپس رئیس محکمۀ مرافعه بخاطر بهبود امور کاری محاکم با در نظرداشت فرامین، متحدالمآل‌ها، تصاویب شورای مقام عالی ستره محکمه در مورد چگونگی اجراآت قضائی و اداری توضیحات و رهنمائی لازم ذیل را نمود:

۱ ـ در رابطه به داشتن هماهنگی با مسؤولین ولسوالی توصیه صورت گرفت.

۲ ـ تأکید گردید تا با رویه، سلوک و اخلاق نیک با مراجعین و مردم در حصۀ مشکلات شان طبق اصول رسیدگی و اجراات لازم گردد.

در اخیر رئیس محکمۀ مرافعه به حاضرین در جلسه فرمود، در تصامیم خویش دقت نموده؛ تا عدالت را به وجه احسن انجام دهید.

## حکم جزای تعزیری بالای یک مجرم در ولایت غور تطبیق شد

به اساس فیصلۀ محکمۀ ابتدائیۀ ولسوالی ساغر ولایت غور بالای یک تن به جرم فساد اخلاقی؛ به تاریخ ۲۰/ ۵/ ۱۴۴۷ هـ ق در محضر عام حکم جزای تعزیری تطبیق شد .

محکمۀ ابتدائیه مجرم مذکور را بر ۳۹ دُره جزای تعزیری محکوم کرده بود؛ که این فیصله بعد از تائید مقام عالی ستره محکمه تطبیق شد.

## د کابل ولایت د نشه‌يي توکو او مسکراتو څخه د مخنيوي ابتدائيه محکمې لخوا (۱۱) مجرمينو ته تعزيري سزا ورکړل شوه

د کابل ولایت د نشه‌يي توکو او مسکراتو څخه د مخنيوي ابتدائيه محکمې د پرېکړې له مخې (۱۱) کسانو ته د نشه يي تابليتو (ذيکپ، تابليت کا)، الکولي مشروباتو او شيشې د خرڅلاو او قاچاق په جرمونو، په ۲۶/ ۵/ ۱۴۴۷ هـ ق نېټه تعزيري سزا ورکړل شوه.

ابتدائيه محکمې ياد مجرمين له اوو مياشتو څخه تر اوو کالو پر تنفيذي بند او له ۱۰ څخه تر ۳۹ دُرو پر تعزيري سزا محکوم کړي وو؛ چې ياده پرېکړه د سترې محکمې عالي مقام له تائيد وروسته پر يادو مجرمينو تطبيق شوه.

## په ننګرهار ولايت کې (۱۴) مجرمينو او متهمينو ته تعزيري سزا ورکړل شوه

د ننګرهار ولایت ښاري او لعلپورې ولسوالۍ ابتدائيه محاکمو د پرېکړو له مخې، د يوې ښځې په ګډون (۱۴) کسانو ته له کوره د تېښتې او شراب خرڅولو په جرم او د لواطت او غلا په تور، د ۱۴۴۷ هـ ق کال د جمادی الأولی مياشتې په ۲۰مه او ۲۱مه نېټه تعزيري سزا ورکړل شوه.

ابتدائيه محاکمو دغه مجرمين او متهمين پر ۳۹ـ ۳۰ دُرو تعزيري سزا محکوم کړي وو؛ چې يادې پرېکړې د سترې محکمې عالي مقام له تائيد وروسته پر يادو کسانو تطبيق شوې.

په دې موخه جوړه شوو غونډو کې چې د محاکمو د قضائي او اداري غړو سربېره په کې د نورو امارتي ادارو مسؤولينو او عامو هېوادوالو ګډون درلود، د تعزيري سزاګانو د تطبيق پر ګټو او ارزښت تفصيلي خبرې وشوې.

او يادې غونډې د دعاء په ويلو پای ته ورسېدې.

## په زابل ولايت کې (۱۹) مجرمينو او متهمينو ته تعزيري سزا ورکړل شوه

د زابل ولايت ښاري ابتدائيه محکمې د پرېکړې له مخې د يوې ښځې په ګډون (۱۹) کسانو ته د غلا، زنا او لواطت په تور او نامشروع اړيکو په جرم، د دوشنبې په ورځ (۲۶/ ۵/ ۱۴۴۷هـ ق) نېټه په عام محضر او د محکمې په انګړ کې تعزيري سزا ورکړل شوه.

ابتدائيه محکمې ياد کسان له لسو مياشتو څخه تر شپږو کلونو پر تنفيذي بند او له ۱۰ څخه تر ۳۹ دُرو پر تعزيري سزا محکوم کړي وو؛ چې ياده پرېکړه د سترې محکمې عالي مقام له تائيد وروسته پر يادو مجرمينو او متهمينو تطبيق شوه.

په دې موخه جوړه شوې غونډه کې د مرافعه او ښاري ابتدائيه محاکمو مسؤولينو، قضائي غړو او اداري کارکونکو، مرستيال والي، امنيه قوماندان، د علماوو شورا غړو، نورو امارتي ادارو مسؤولينو او عامو هېوادوالو ګډون درلود.

غونډه د قرانکريم د څو مبارکو آيتونو په تلاوت پيل شوه؛ وروسته د مرافعه محکمې رئيس محترم مفتي عبدالجليل (سفيان) وينا وکړه وويل، دغه د اسلامي نظام برکت دی چې نن موږ او تاسو د اسلامي احکامو د تطبيق پروګرام جوړ کړی، اسلامي نظام په ډېرو غټو قربانيو راغلی، بايد قدر يې وکړو او شکر يې اداکړو چې الله (جل جلاله) دغه نعمت دوامداره کړي.

دغه راز د مرافعه محکمې رئيس د حدودو او تعزيراتو په اړه ګډونوالو ته معلومات وړاندې کړل.

د غونډې په دوام کې علماء کرامو د موضوع اړوند ويناوې وکړې او غونډه د تعزيري سزا له تطبيق وروسته د دعاء په ويلو پای ته ورسېده.

## حکم جزای تعزیری بالای یک مجرم در ولایت بلخ تطبیق شد

به اساس فیصله محکمه ابتدائیه ولسوالی بلخ ولایت بلخ بالای یک زن به جرم داشتن روابط نامشروع؛ به تاریخ ۲۶/ ۵/ ۱۴۴۷ هـ ق حکم جزای تعزیری تطبیق شد.

محکمه ابتدائیه متذکره مجرم مذکوره را به دوسال حبس تنفیذی و ۳۹ دُره جزای تعزیری محکوم کرده بود؛ که این فیصله بعد از تائید مقام عالی ستره محکمه تطبیق شد.

حکم جزای تعزیری در حضور رئیس و اعضای قضائی محکمه ابتدائیه، مسؤولین ادارات امارتی، کارمندان اداری، مراجعین و مردم عام تطبیق شد.

این جلسه با تلاوت چند آیات از قرآن عظیم الشان آغاز شد؛ سپس مولوی عین الدین روحانی آمر تعقیب و فرامین در مورد تطبیق حکم، اجرای احکام شریعت، برچیدن محو فساد، فتنه، فسق و عمل خلاف شریعت از جامعه اسلامی صحبت نمود و خداوند متعال را سپاس گزاری نمود، که الحمدلله امروز درکشور ما نظام اسلامی حاکم بوده و تمام احکام الهی مورد تطبیق قرار میگیرد.

در ادامه مولوی عبدالناصر (حق دوست) رئیس محکمه ابتدائیه ولسوالی مذکور راجع به حرمت زنا و نفاذ احکام شرعی صحبت های همه جانبه نمود.

جلسه بعد از تطبیق حکم با دعاء مولوی محمد جلال (جلالی) مدیر حج و اوقاف ولسوالی مذکور خاتمه یافت.

## د کونړ ولايت مرافعه محکمې مسؤولينو په هڅو (۴۷) کلنه دښمني په دوستۍ بدله شوه

د کونړ ولايت مرافعه محکمې مسؤولينو په ډېرو هڅو او ترغيب او د مصلحينو په منځګړيتوب، (۴۷) کاله مخکې رامنځته شوې د قتل موضوع، په ۲۲/ ۵/ ۱۴۴۷ هـ ق نېټه حل او فصل شوه.

ياده موضوع (۴۷) کاله مخکې د کونړ ولايت په غازي‌آباد ولسوالۍ کې رامنځته شوې وه؛ چې ابتدائيه محکمې ته له راجع کېدو وروسته يې موضوع سلسلتاً د مرافعه محکمې جزا ديوان ته راغله.

وروسته د مرافعه محکمې مسؤولينو په هڅو او د مصلحينو په منځګړيتوب دواړو طرفونو سولې ته غاړه کېښوده؛ موضوع يې حل او شته دښمني يې رسماً په دوستۍ بدله شوه.

## د کابل ښار د سندونو او وثيقو د ثبت شپږو آمريتونو په دوو اونيو کې (۱۳۰۳) بېلابېلې وثيقې اجرا کړې دي

د کابل ښار د سندونو او وثيقو د ثبت شپږو آمريتونو په دوو اونيو کې له ( ۱/ ۵/ ۱۴۴۷ هـ ق څخه تر ۱۵/ ۵/ ۱۴۴۷ هـ ق) نېټې پورې (۱۳۰۳) بېلابېلې وثيقې اجرا کړې دي؛ چې جزئيات يې په لاندې ډول دي:

**۱- د سندونو او وثيقو د ثبت لومړۍ حوزه:**

د سندونو او وثيقو د ثبت لومړۍ حوزې په دوو اونيو کې (۴۷) نکاح خطونه، (۲) زوجيت خطونه او (۳۶) نورې بېلابېلې وثيقې اجرا کړې دي.

**۲- د سندونو او وثيقو د ثبت دويمه حوزه:**

د سندونو او وثيقو د ثبت دويمې حوزې په دوو اونيو کې (۸۴) نکاح خطونه، (۸) قبالې، (۷) زوجيت خطونه او (۱۳۷) نورې بېلابېلې وثيقې اجرا کړې دي.

**۳- د سندونو او وثيقو د ثبت درېيمه حوزه:**

د سندونو او وثيقو د ثبت درېيمې حوزې په دوو اونيو کې (۲۳۳) نکاح خطونه، (۴۵) قبالې، (۱۳) زوجيت خطونه او (۱۰۷) نورې بېلابېلې وثيقې اجرا کړې دي.

**۴- د سندونو او وثيقو د ثبت څلورمه حوزه:**

د سندونو او وثيقو د ثبت څلورمې حوزې په دوو اونيو کې (۹۵) نکاح خطونه، (۳) قبالې، (۹) زوجيت خطونه او (۵۷) نورې بېلابېلې وثيقې اجرا کړې دي.

**۵- د سندونو او وثيقو د ثبت پنځمه حوزه:**

د سندونو او وثيقو د ثبت پنځمې حوزې په دوو اونيو کې (۱۲۳) نکاح خطونه، (۳۴) قبالې، (۹) زوجيت خطونه او (۶۷) نورې بېلابېلې وثيقې اجرا کړې دي.

**۶- د سندونو او وثيقو د ثبت شپږمه حوزه:**

د سندونو او وثيقو د ثبت شپږمې حوزې په دوو اونيو کې (۱۱۰) نکاح خطونه، (۷) قبالې، (۱۲) زوجيت خطونه او (۵۸) نورې بېلابېلې وثيقې اجرا کړې دي.

## محاکم ولایت غزنی طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۳۴۲) دوسیه، به تعداد (۲۱۴) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت غزنی، دواوین مرافعه، وثایق، ابتدائیهٔ شهری، محکمهٔ نظامی زون غزنی و ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱/ ۵/ ۱۴۴۷ هـ ق الی ۱۵/ ۵/ ۱۴۴۷ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۲۲۰) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۳۴) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۸۰) دوسیه فیصله شده، (۳۵) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۰۱) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۳۵) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۵۱) دوسیه فیصله شده، (۷) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت غزنی به تعداد (۲۱۴) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## محاکم ولایت فاریاب طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۴۹۹) دوسیه، به تعداد (۳۳۸) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت فاریاب، دواوین مرافعه، وثایق، ابتدائیه شهری و ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱/ ۵/ ۱۴۴۷ هـ ق الی ۱۵/ ۵/ ۱۴۴۷ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۴۹) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۴۶) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۱۴) دوسیه فیصله شده، (۴) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۲۳۰) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۲۶۲) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۵۴) دوسیه فیصله شده، (۱۹) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت فاریاب به تعداد (۳۳۸) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.


مسؤول مدیر: مولوي عبدالرحیم (راشد)
اډیتور : جوادالله (جاهد)
ډیزاین: حمیدالله (راسخ)

## د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه څرګندويه خپرونه په میاشت کې درې ځله چاپيږي

د افغانستان اسلامي امارت
ستره محکمه
د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

**د (تخار) ولایت اړوند محاکمو د ۱۴۴۶ هـ ق کال په څلورمه ربعه**


کې (۲۵۵۰) حقوقي او جزائي دوسیو ته پر رسېدنه سربېره (۱۲۲۰) وثیقې اجرا کړې دي.




د افغانستان اسلامي امارت
ستره محکمه
د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

**د (پنجشیر) ولایت اړوند محاکمو د ۱۴۴۶ هـ ق کال په څلورمه ربعه**

کې (۲۰۲) حقوقي او جزائي دوسیو ته پر رسېدنه سربېره (۳۰۷) وثیقې اجرا کړې دي.




د افغانستان اسلامي امارت
ستره محکمه
د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

**د (پکتیکا) ولایت اړوند محاکمو د ۱۴۴۶ هـ ق کال په څلورمه ربعه**


کې (۷۵۴) حقوقي او جزائي دوسیو ته پر رسېدنه سربېره (۲۹۵) وثیقې اجرا کړې دي.




د افغانستان اسلامي امارت
ستره محکمه
د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

**د (پکتیا) ولایت اړوند محاکمو د ۱۴۴۶ هـ ق کال په څلورمه ربعه**


کې (۱۲۵۴) حقوقي او جزائي دوسیو ته پر رسېدنه سربېره (۵۴۳) وثیقې اجرا کړې دي.




د افغانستان اسلامي امارت
ستره محکمه
د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

**د (پروان) ولایت اړوند محاکمو د ۱۴۴۶ هـ ق کال په څلورمه ربعه**


کې (۱۴۳۶) حقوقي او جزائي دوسیو ته پر رسېدنه سربېره (۹۶۷) وثیقې اجرا کړې دي.




د افغانستان اسلامي امارت
ستره محکمه
د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

**د (بلخ) ولایت اړوند محاکمو د ۱۴۴۶ هـ ق کال په څلورمه ربعه**


کې (۳۷۴۲) حقوقي او جزائي دوسیو ته پر رسېدنه سربېره (۲۱۷۹) وثیقې اجرا کړې دي.




د افغانستان اسلامي امارت
ستره محکمه
د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

**د (زابل) ولایت اړوند محاکمو د ۱۴۴۶ هـ ق کال په څلورمه ربعه**


کې (۶۷۵) حقوقي او جزائي دوسیو ته پر رسېدنه سربېره (۶۰۲) وثیقې اجرا کړې دي.




د افغانستان اسلامي امارت
ستره محکمه
د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

**د (روزګان) ولایت اړوند محاکمو د ۱۴۴۶ هـ ق کال په څلورمه ربعه**

کې (۱۳۷۶) حقوقي او جزائي دوسیو ته پر رسېدنه سربېره (۶۶۰) وثیقې اجرا کړې دي.




د افغانستان اسلامي امارت
ستره محکمه
د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

**د (میدان وردګ) ولایت اړوند محاکمو د ۱۴۴۶ هـ ق کال په څلورمه ربعه**

کې (۵۴۰) حقوقي او جزائي دوسیو ته پر رسېدنه سربېره (۶۰۸) وثیقې اجرا کړې دي.




د افغانستان اسلامي امارت
ستره محکمه
د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

**د (سرپل) ولایت اړوند محاکمو د ۱۴۴۶ هـ ق کال په څلورمه ربعه**


کې (۱۰۰۱) حقوقي او جزائي دوسیو ته پر رسېدنه سربېره (۸۰۹) وثیقې اجرا کړې دي.




د افغانستان اسلامي امارت
ستره محکمه
د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

**د (خوست) ولایت اړوند محاکمو د ۱۴۴۶ هـ ق کال په څلورمه ربعه**


کې (۱۰۴۷) حقوقي او جزائي دوسیو ته پر رسېدنه سربېره (۵۰۳) وثیقې اجرا کړې دي.




د افغانستان اسلامي امارت
ستره محکمه
د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

**د (دایکندي) ولایت اړوند محاکمو د ۱۴۴۶ هـ ق کال په څلورمه ربعه**

کې (۶۲۵) حقوقي او جزائي دوسیو ته پر رسېدنه سربېره (۳۷۱) وثیقې اجرا کړې دي.




میزان
د لیکوال پلاوي تر څارنې لاندې
پته : ستره محکمه، د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست
publications.sc۱۴۴۳@gmail.com
www.supremecourt.gov.af
د ټلیفون شمېرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳۶۱
۰۲۰۲۳۰۲۲۶۳